# د رایي ورکونکو د نوم ثبتوني کړنلاره

دغه کړنلار د ټاکنو د قانون د ۵۶ مادې دراغلو واکونوپربنسټ چې دټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا درایي ورکونکو دنوم ثبتونی اړوندوچارودتنظیم لپاره تصویب شوې ده .

## نومونی

لومړی ماده:

په دې کړنلار کی وروستی نومونی لاندې مفهومونه افاده کوي:

۱- کمیسیون:دټاکنو خپلواک کمیسیون چی دافغانستان داساسی قانون و۱۵۶مادی پربنسټ جوړ شوی دی.

۲-سیاسی گوند :سیساسی گوند یا دسیاسی گوند ونویوالی چی په وزارت عدلیه ثبت شوي وي.

۳- دراي ورکونکو نوم ثبتونه:درایي ورکولو دکارتونو دویشلو بهیر او دپخوانیو ویشل شوي کارتونو اعتبار باید په پام کي ونیول شي.

۴-دراي وکولو کارت:دکمیسیون له خوا تصویب شوی سند دی چی دهغی پربنسټ رایه ورکونکی کولی شی دحپل درایي ورکولو حق خخه گټه واخلي.

۵-درایي ورکونکي په توگه ویوه شخص دشرایطو دنه لرلو په اړه رسمي اعتراض کول.

۶-شکایت :دټاکنیزو سرغړونو په اړه او یا بل هر سند چی دکمیسیون یا ددارالانشا ءله خوا تصویب شوی وي تري سرغړونه وشي ، نورسما شکایت کیږي.

## د رایه اچونی وخت او ځایونه:

دویمه ماده:

۱-دراي ورکونکو دنوم ثبتوني دپیل او پای نیټه لږ ترلږ ۳۰ورځي مخکي دنوم ثبتوني دپیل بهیر دکمیسیون به خوا عام ولس ته رسول کیږي.

۲-درایي ورکونکو دنوم ثبتوني لپاره ،په هرولسوالی کي لږ تر لږه دنوم ثبتوني یو مرکز باید جوړ شي. په ښارونو کي هره یوه ناحیه دنوم ثبتونی لږ تر لږه یوه مرکز لرونکي وي .دځایونو شمیر دنوم ثبتونی په مرکز ونوکي دولسوالیو او ناحیو دنفوس په پام کي نیولو سره ټاکل کیږی .

۳-کمیسیون دکوچیانو دنوم ثبتونی لپاره ځانگړی ځایونه ټاکي.

۴-کمیسیون دامکانوتوپه پام کي نیولو سره دبستر شویو ناروغانو ،هغه بندیانو چي دمحکمی په حکم دسیاسی حقوق څخه محروم شوي نه وي ،همداراز دوسله والو ځواکونو منسوبانو دنوم ثبتونی په موخه دنوم ثبتوني گرځنده دلی جوړی کړی.

۵- کمیسیون درایي ورکولو دنوم ثبتونی ځایونه ټاکي او موضوع لږترلږه ۷ورځی مخکي دنوم ثبتوني دپیل څخه دعام ولس دپوهاوي لپاره رسوي.

۶-کمیسیون ځانگړي پاملرنه دیته اړوي تر څو درایي ورکونو دنوم ثبتوني ځای پداسي موقیعت کي جوړ کړي چي ښځی او معیوب کسان ورتهلاس رسی ولري.

## ځارنه ،کتنه او دریوت برابرول

دریمه ماده:

۱- سیاسی ګوندونه ،پرټاکنوباندی کتونکي ټولنی او رسنۍ چې دکمیسیون له خوا یې باورلیک ترلاسه کړی وي ،کولی شي ،دراییِ ورکونود نوم ثبتونی بهیر دکړند ودونو او اړوند آرونو(اصولو) دشرایطو په پام کې نیولو سره کولی شي درایي ورکوونکو دنوم ثبتونی خایونوته ورشي.
۲-سیمه ییز کمیسیون دسیاسی ګوندونو ،پرټاکنو باندې کتونکو ټولنو او رسنیو لپاره دباور لیک صادرولو نیټه ټاکي او عام ولس پری خبروي.
دباور لیک دشرایطو صادرول په اړوند کړنلارکي تنظیمیږي.

## دنوم لیکني کارکوونکي

څلورمه ماده:

۱-دنوم لیکني کارکووتکی چې دټاکنیزو کارکوونکو دکړندود آرونه لاسلیک کوي ،دهغوی په رعایت مکلف دي.
۲-هغه وګړی چې دهغوی په ګمارلو دټاکنیزو کارکوونکوپه توګه قانونی خنډشتون ولري،دکمیسیون دارالانشاء نه شي کولی هغوی دنوم ثبتونی دکارکوونکوپه توګه وګماري.

## درایي ورکوونکو د نوم ثبتوني بهیر

پنځمه ماده:

۱-لاندې کسان دټاکنودقانون سره برابر درایي ورکولو شرایطو لرونکي وي ،کولی شي درایي ورکولو دنوم لیکنی په بهیر کې درایي ورکولو نوم لیکني ځایونوته داړوندي ولسوالی یا ناحیې ته ورشي اودکمیسیون ددارالانشاء دکړندودسره برابر دنوم لیکني غوښتنه وکړي.
الف:چې مخکی یې درایي ورکوونکی په توګه نوم لیکنه نه وي شوي.
ب:چې مخکی یې درایي ږرکولو کارتونه ورک او یا داسی تخریب شوې وي چې درایي ورکونکی خانګړنېډ پیژندلووړنه وي.
ج:چې له یوې ټاکنیزه حوزې څخه یې بلې ټاکنیزه حوزې ته کډه کړې وي.
د:هغه کډوال چې له کډوالی څخه هیواد ته راستانه شوي وي.
ه:چې نوي درایي ورکولووړګرځیدلي وي.
۲-هغه کوچیان چې دټاکنو دقانون پر بنسټ درایي ورکولو شرایطو لرونکی وي اووغواړی چې نوم ثبتونه وکړی ،کولی شي دنوم ثبتوني مرکزو نوته ولاړ شي اودټاکنودخپلواک کمیسیون ودارالانشاء دکړندودسره په سمون کې دنوم لیکني غوښتنه کوړي.
۳-دټاکنود خپلواک کمیسیون دارالانشاءدښځو او نارینه وولپاره دنوم ثبتوني جلاځایونه جوړوي.
دامکان ترحده دښځینه وورایپورکونکو نوم ثبتونه دښځینه ووکارکوونکو له خوا ترسره شي.

## درایي ورکولود نوم لیکني معلومات

شپږمه ماده:

۱-دنوم ثبتوني په بهیر کې د رایي ورکونکي له خوا دوروستیو معلوماتو وړاندې کول اړین ګڼل کیږي.

- نوم
- د پلار نوم
- عمر
- د استوګنځی بشپړه پته (د امکان تر بریده)
- جنس
- درایي ورکوني دمرکز ټاکل
- لاسلیک یا د ګوتی لګول

۲-هغه کسان چې دشرایطو لرونکي وي او درایي ورکولو کار غواړی ،باید چې د نوم لیکني مامورینوته اجاره ورکړی ،ترڅو دهغوی عکس واخلي .
هغه ښځه دشرایطو لرونکی ښځی چې درازراز دلایلو له مخی دعکس اخیستنی څخه دده وکړی له دې امر څخه مستثنی دي.

## د رايي ورکولو کارت

اوومه ماده:

1. هغه د له کسان چي د شرايتو لرونکي وي او همدي کړنلاري د (۶) مادي معلومات څرګند کړی، ورته د رايي ورکولو نوم ليکني کارت ويشل کيږي.
2. د رايي ورکولو کارت په هغه صورت کي د باور ورکيداى شي چي د همدي کړنلاري د (۱) فقري (۶) مادي معلوماتو لرونکي وي.

## د نوم ليکني په بهير کي د رايي ورکوونکو اعتراضات

اتمه ماده:

1. د رايي ورکولو شرايطو لرونکي اتباع کولی شي چي د شرايطو سره برابر شخص په اړه چي غواړي د رايي ورکولو په موخه نوم وليکي اعتراض وکړي.
2. د نوم ليکني د ځاى مسوول د هغه ارخ سره اړيکي کيږي چي د شرايطو لرلو پر خلاف يي شوی دی، د دواړو خواو د شواهدو وړاندي کولو په پام نيولو سره کولی شي د اعتراض د رد يا منلو فيصله وکړي.

اعتراض کوونکی او هغه شخص چي د هغي پر خلاف اعتراض شوی ديو د نوم ليکني د ځاى مسوول له پريکړي څخه د نه قناعت په صورت کي کولی شي خپل شکايت د کميسيون په نوم وليکي. په دي اړه کميسيون به شکايتونو ته د رسيدني وروستی مرجع وي.

## شکايتونه

نهمه ماده:

۱-د رايي ورکولو شرايطو لرونکي اتباع يا کتونکي چي د ټاکنوله قانون څخه يا هغه اسناد چي د کميسيون يا دارالانشاؤ له خوا تصويب شوي وي د سرغړوني او يا د اعتراض اړونده پريکړي باندي د نه قناعت لرلو په صورت کي کولی شي خپل شکايتونه په فورم کي وليکي.

۲-د شکايتونو لپاره رسيدنه به په لومړي پړاو کي د نوم ليکني د مرکز مسوول به خوا تر سره شي.

## موقت لست

لسمه ماده:

۱-د رايي ورکوونکو د نوم ليکني د بهير په پاى کي، کميسيون به د رايي ورکوونکو موقت لست جوړ کړي، د معلوماتو د سموالي (تصحيح) او د اعتراضونو دتر لاسه کولو په موخه به يي (۱۴) ورځي په عام ځايونوکي ننداري ته کيږدي.

۲-د نوم ليکل شويو رايه ورکوونکو په اړه چي ناسم معلومات په لسږ کي ليکل شوي وي، کولی شي د ولايتي کميسيون سره اړيکن شي او د لست د سم ثويو معلوماتو غوښتنونکي شي.

۳- په لست کي د شملو کسانو په اړه د اعتراض په صورت کي، د رايي ورکولو د شرايطو لرونکو اتباعو او سياسي ګوندونو مشران چي دکميسيون له خوا دګدون لپاره درايي ورکونکو د نوم ليکني بهيي باورليک تر لاسه کړی وي، کولی شي خپل اعتراضونه د کميسيون ولايتي مسوول ته وړاندي کړي.

۴-. د نوم ليکني د ځايونومسوولين به د لست د هر ډول بدلون رپورټ د کميسيون د خبرتيا لپاره ورسوي.

## دپاى لست

يووبسمه ماده:

د رايي ورکوونکو د پاى لست د د موقت لست د معلوماتو د سموني (تصحيح) څخه وروسته او د موقت لست اړوند اعتراضونو ته رسيدنه د کميسيون له خوا چمتوکيږي.

## د معلوماتو مصونيت

دولسمه ماده:

کميسيون مناسب ګامونه اخلي چي د انتخاباتو له ټرسره کولو پرته د نورو هدفونو له پاره ګټه وانخيستل شي البته هغه موارد چي په قانون کي وړاندوينه شوي، مستثنی دي.

## انفاذ

دیارلسمه ماده:

دغه کړنلاره دتصو یب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږ ي.